د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 398

(30 میزان – 6 عقرب 1401 هـ ش)

# د افغانستان د نظام حقوقي مشروعیت: اساسي قانون ته اړتیا




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


د افغانستان د نظام حقوقي مشروعيت: اساسي قانون ته اړتیا ........................................ 3

- سريزه ........................................................................................ 3
- تاريخي مخينه................................................................................. 4
- د اساسي قانون اړتيا........................................................................... 5
- د نوي اساسي قانون د جوړېدو عوامل .............................................................. 7
- پايله ........................................................................................ 8
- وړانديزونه:.................................................................................. 9
- مأخذونه:.................................................................................... 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغانستان د نظام حقوقي مشروعيت: اساسي قانون ته اړتيا

## سريزه

په يوه هېواد کې اساسي قانون د ملت او دولت ترمنځ د تړون حيثيت لري او دا هغه وثيقه ګڼل کېږي چې د دواړو لورو حقوق او وجايب مشخصوي. ملت د دغه تړون په چوکاټ کې خپل حقوق غواړي او په مقابل کې يې د دولت پر وړاندې خپل وجايب مني. دولت هم د اساسي قانون له مخې د هغوی د حقوقو ورکړه مني او په مقابل کې يې پرې خپل شرطونه او قواعد پلي کوي. که دا تړون ماتېږي، نو ټولنه د ګډوډۍ طرف ته ځي، ځکه د ملت او دولت ترمنځ د حقوقو او وجايبو د تشخيص چوکاټ له منځه ځي او هېڅ لوری نه پوهېږي چې پر يو او بل يې څه حقوق او وجايب دي او په دې توګه خپلسري او ګډوډۍ ته لار پرانېزي.

اساسي قانون د هغو قواعدو مجموعې ته ويل کيږي، چې د دولت او حکومت بنه، په حکومت کې عمومي ارګانونه (مقننه، قضائيه او اجرائيه قوې) او د دغو ارګانونو د صلاحيتونو حدود ټاکي او همدارنګه د يوه هېواد د وګړو حقوق او ازادۍ تعريفوي.[١]

په افغانستان کې د اساسي قانون تر چتر لاندې حکومتولي کابو يوه پېړۍ مخينه لري. که څه هم د افغانستان اساسي قوانين په بېلابېلو دورو کې بدل شوي، مګر په مسلسل ډول د اساسي قوانينو تر چتر لاندې واکمنۍ شوې ده. دا لومړی ځل دی چې له تېر کال راهيسې افغانستان اساسي قانون نه لري؛ ځکه د اسلامي امارت د سرپرست حکومت له جوړېدو سره تېر اساسي قانون لغوه اعلان شو او پر ځای يې تراوسه د نوي اساسي قانون پر تسويد او تدوين رسما کار نه دی پيل شوی او نه هم کوم پخوانی اساسي قانون په لنډمهالې توګه د هېواد د اساسي قانون په توګه اعلان شوی. دې چارې په خپل وار سره د اوسني نظام د ملي او نړيوال مشروعيت په ستونزه کې منفي رول لوبولی دی.

په دې لنډه تحليلي مقاله کې له تاريخي لحاظه د اساسي قانون اهميت ته د لنډې کتنې ترڅنګ، د حکومتي چوکاټ او سيستم لپاره اساسي قانون ته پر اړتيا، د اساسي قانون د رامنځته کېدو پر عواملو او نورو اړوندو موضوعاتو بحث شوی دی.

## تاریخي مخینه

د تاریخ په اوږدو کې تدریجي بدلونونو په سیاسي او ټولنیزو ټولنو کې د خلکو فکري او شعوري سطحه لوړه کړه، تر دې چې واکمنانو او زمامدارانو ورو ورو دا توانایي له لاسه ورکړه چې پر خلکو په زوره حکومت وکړي. همدا لامل و، چې د روښانه فکر لرونکو چارواکو د خپل حیثیت او حکومت د ساتلو لپاره خپلو وګړو ته د حقونو د ورکولو پرېکړه وکړه او د فرمانونو او خبرو له لارې یې د اساسي قانون په شکل یو څه رامنځته کړل. دا چې په تاریخ کې له قانونمندۍ پرته ټولنې د خپلې ګډوډۍ له امله له منځه تلونکې وې، همدا لامل و چې حتی له میلاد څخه کلونه پخوا واکمنانو د چارو د تنظیم لپاره د قانون شتون یوه اړتیا ګڼله. بېلګې یې له میلاد (۲۰۸۰_۲۱۲۳) کاله وړاندې د بابل په تمدن کې د حمورابي (Hammurabi) قانون، په لرغوني هند کې د مانو (Manou) قوانین، په مصر کې د بوخوریس قوانین، په روم کې د هیرودت او احمس قوانین، په یونان کې د ډارکون قوانین یادولی شو، او حتی د چنګیز په ظالمانه نظام کې هغه د خپلو چارو تنظیم لپاره چنګیزي یاسا رامنځته کړې وه چې د اساسي قانون حیثیت یې درلود. د بریتانیا پاچا د سیاسي فشارونو په پایله کې په ۱۲۱۵م کال کې د لوی منشور (منشور کبیر) (Magna Carta) په صادرولو سره په معاصره او لیکلې بڼه د حکومتولۍ د چارو د تنظیم لپاره د لومړني اساسي قانون بنسټ کېښود.[۲]

همدا راز د اسلام په تاریخ کې هم ګورو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته له هجرت کولو او د سیاسي نظام له استقرار وروسته د خپلو لومړنیو اقداماتو په توګه د مدینې میثاق رامنځته کړ، کوم څه چې نه یوازې د اسلامي نظام لپاره یې د اساسي قانون حیثیت درلود بلکې په اسلام کې یې د قانونمندۍ پر لوړ اهمیت ټینګار کاوه.

له تاریخي لحاظه افغانستان هم نږدې یوه پېړۍ د اساسي قانون مخینه لري. امان الله خان لومړنی مشر و چې افغانستان یې د اساسي قانون خاوند کړ. ورپسې د نادرخان، ظاهر شاه، داود خان، ببرک کارمل، ډاکټر نجیب، مجاهدینو (په دې دوره کې اساسي قانون تسوید شو، خو تصویب یې د ځینو موضوعاتو پر سر د اختلاف له امله پاتې شو) او د لوېدیځ تر ملاتړ لاندې د حامد کرزي په دوره کې اساسي قانون جوړ شوی او د وخت له غوښتنو او حالاتو سره سم یې قواعد پکې ځای پر ځای کړي دي.[۳]

د یادو شوو دورو په اساسي قوانینو کې د امان الله خان، نادرخان او ظاهر شاه اساسي قوانین تر ډېر پر شاهي نظام راڅرخېدل او قواعد یې د همدغسې یوه نظام لپاره عیار شوي وو، خو د وګړو اساسي حقوق او ازادۍ، قضایي نظام او اداري جوړښت یې تر ډېره له حالاتو او شرایطو سره مناسب و. وروسته د دواد خان اساسي قانون بیا په لومړي ځل افغانستان ته جمهوري او دیموکراتیک نظام ورمعرفي کړ او د همدې نظام په چوکاټ کې یې حکومتي نظام ترتیب او جوړ کړ. په دغو ټولو اساسي قوانینو کې د اسلام مبارک دین د دولت د رسمي دین په حیث منل شوی او اسلامي ارزښتونه یې تر ډېره په کې منلي دي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له اساسي قانون سره د افغاني ټولنې دومره تسلسلي پاتې کېدل پر دې دلالت کوي چې دا ټولنه په ځانګړې توګه په تېره پېړۍ کې له اساسي قانون سره خورا نژدې پاتې شوې او حتی تر دې چې کله د ۱۳۸۲ هـ.ل کال اساسي قانون نه و ترتيب شوی، نو د حامد کرزي په لنډمهاله او انتقالي دوره کې د ظاهر شاه د وخت اساسي قانون د شاه له څېرکي پرته پلی کېده[۴].

## د اساسي قانون اړتيا

په اوسني وخت کې په علمي مباحثو او ليکنو کې دا ډول پوښتنې نه مطرح کېږي، ځکه هغه موضوعات چې په بشپړ ډول روښانه او واضح وي پر هغو بيا بحث کول علمي ارزښت نه لري، خو د دغه بحث اړتيا هغه مهال پيدا کېږي چې په يوه ټولنه کې دا فکر حاکم شي چې اساسي قانون ته اړتيا نشته، نو بيا اړتيا ده چې د اساسي قانون پر اهميت او اړتيا بحث وشي، موږ دلته په لنډ ډول د اساسي قانون پر اړتيا بحث کوو:

**۱- د سياسي نظام مشروعيت:** سياسي نظام تر ډېره د حکومتي سيستم د چلونې او د حکومتي چارواکو د ټاکنې په بڼې او ميکانيزم پورې تړلی دی او دا ميکانيزم يوازې د اساسي قانون له لارې ټاکل کېدای شي. کله چې اساسي قانون د نظام يوه بڼه او د چارواکو د ټاکنې ميکانيزم وړاندې کړي، نو حکومتي سيستم او د چارواکو د ټاکنې ميکانيزم مشروعيت خپلوي. البته دلته يوه خبره د يادولو وړ ده چې په اسلامي نظامونو کې حاکميت د قانون جوړونې په بڼه کې يوازې او يوازې الهي مرجع او منشأ لري، خو په اسلامي نظامونو کې د الله تعالی د حاکميت مفهوم دا دی چې کله يو قانون ترتيبيږي يا ولسمشر يا امير پريکړې کوي، نو هغه به له قران او سنتو سره مطابقت لري او وروسته به عملي کېږي. په اسلامي نظام کې سياسي حاکميت يا د چارواکو ټاکنه د خلکو کار دی او دوی ته دا حق خپله اسلامي شريعت ورکړی او همدا لامل دی چې اجتهادي قوانين له اسلامي شريعت سره له تطابق وروسته د خلکو له خوا تاييديږي[۵].

په نړۍ کې اساسي قوانين يا د ريفرنډم له لارې تصويبېږي، يا يې پارلمانونه تصويبوي. په افغانستان کې دا چاره د لويې جرګې له لارې دود شوې ده.[٦] په دغو ټولو لارو کې خلک دخيل او خلک پرېکړه کوي چې د هېواد مشر څنګه وټاکل شي؟ خپل وکيلان يا استازي په کوم ميکانيزم وټاکي؟ لومړی وزير ولري او که نه؟ لومړی وزير له پارلمان څخه انتخاب شي او که په کوم بل ډول؟ دا ټولې پرېکړې خلک کوي او خلک يې بيا په اساسي قانون کې ځای پرځای کوي او کله چې بيا د همدې اساسي قانون په رڼا کې سياسي نظام رامنځته شي، نو موږ ويلای شو چې دغه سياسي نظام ته ولس مشروعيت ورکړی او دا مشروعيت د ولس د رضايت مفهوم لري نه هغه مطلق حاکميت چې هغه له الله تعالی سره دی.

همدرانګه سیاسي نظامونه خپل حقوقي مشروعیت هم له اساسي قانون څخه ترلاسه کوي، خو که کوم حکومت اساسي قانون ونه لري، نو معنی دا چې نه ولسي مشروعیت لري او نه هم حقوقي، نو که یو حکومت غواړي چې ولسي او حقوقي مشروعیت ترلاسه کړي اړتیا ده چې اساسي قانون جوړ کړي.

د دغه بحث له مخې روښانه ده، چې په اوسني وخت کې په افغانستان کې د اسلامي امارت لپاره د اساسي قانون جوړول له دې اړخه هم مهم دي چې باید خپل سیاسي نظام او حکومتي چوکاټ خلکو ته وروپېژني او د حکومتي نظام راتلونکی روښانه کړي، نو که اسلامي امارت د اساسي قانون له لارې داسې یو سیاسي نظام معرفي کړي چې په شکل د اشکالو خلک د دغه سیاسي نظام په ټاکنه کې دخیل وي، نو دا به د اسلامي امارت نړیوالې رسمیت پېژندنې ته هم لاره هواره کړي.

**۲- د حقوقي نظام مشروعیت:** په هېواد کې د عادي قوانینو رامنځته کېدل، لکه: د جزا قانون، مدني قانون، د سوداګرۍ قانون، د بېلابېلو وزارتونو د چارو پرمخ بېولو قوانین او داسې نور... دا ټول قوانین په مجموعه کې حقوقي نظام تشکیلوي او د دغه نظام مشروعیت بیا له اساسي قانون څخه راځي، ځکه اساسي قانون له یوې خوا د عادي قوانینو د جوړېدو اجازه ورکوي او له بلې خوا یې د رامنځته کېدو میکانیزم روښانه کوي؛ خو که اساسي قانون نه وي، ټول عادي قوانین لغوه دي ځکه اساس چې د یو شي ړنګ شي، نو پرې جوړ شوی تعمیر خپله ړنګېږي. که سلامي امارت غواړي چې د هېواد حقوقي نظام ثابت پاتې شي او مشروعیت خپل کړي، نو اړتیا ده چې لومړی اساسي قانون رامنځته کړي.

**۳- د سیاسي استبداد مخنیوی:** هغه حکومتونه چې پر استبداد ولاړ وي او واکمنان یې د ولس له رضایت پرته واکمني او د هغوی مشري کوي، دا ډول نظام غیرعادلانه او استبدادي ګڼل کېږي او په ځانګړې توګه په اوسنۍ نړۍ کې پایښت نه مومي. اساسي قانون هغه مرجع او سند دی چې د سیاسي استبداد مخنیوی کوي. اساسي قانون د واکمن د ټاکلو لارې چارې ټاکي، د هېوادمشر واکونه مشخصوي، د درې ګونو قواوو واکونه او دندې مشخصوي، قضایي خپلواکي او اصول مشخصوي؛ خو کله چې اساسي قانون نه وي او د هېواد ټولواک یا امیر ځان مطلق العنان ګڼي، پریکړې او واکونه یې د کوم تدوین شوي سند له مخې محدودې نه وي، ولسي رضایت یې معلوم نه وي، نو دا سیاسي استبداد دی چې اوسنی بین المللي نظام او اسلامي شریعت یې سخت مخالف دی.

**۴- د وګړو د اساسي حقوقو او ازادیو تشخیص:** که یوه ټولنه اساسي قانون ونه لري، نو اتباع یې د کړنو په ترسره کولو کې له ستونزو سره مخامخ وي، ځکه نه پوهېږي چې کوم کار یې د حاکم نظام په نظر مشروع/قانوني او کوم یې نامشروع/ناقانونه دی او دا د دې لامل کېږي چې د ملت او دولت ترمنځ فاصله ایجاد شي. د بېلګې په ډول: د اسلامي امارت تر چتر لاندې اوسنی نظام چې د اساسي قانون په رڼا کې یې اتباعو ته د هغوی حقوق او ازادۍ نه دي مشخصې کړې، نو اتباع نه پوهېږي چې لاریون وکړي او که نه؟ خپل

نظر او رایه اظهار کړي او که نه؟ سیاسي احزابو او ټولنو ته ادامه ورکړي او که نه؟ د ازادي سیالۍ له لارې د پوهنتون استادۍ او د دولت ماموریت ته اسناد جمعه کړي او که نه؟ او داسې نور ډېر مسایل دي چې افغانان ورسره په ستونزو کې اخته دي ځکه د دې اعمالو په قانوني والي او ناقانوني والي نه پوهېږي، نو له همدې امله هم اساسي قانون ته اړتیا ده تر څو د ملت او دولت ترمنځ د بې باورۍ فضاء ختمه، ولس پر خپلو حقوقو او ازادیو پوه او حکومتي سیستم عادي حالت ته راوګرځي.

**۵- د قضايي نظام مشروعیت:** د قضاء نظام دوه برخې لري: یو محتوایي برخه ده او بله یې شکلي. په محتوایي برخه کې لومړنۍ مرجع چې تري ګټه اخیستل کېږي اسلامي فقه ده او په اجتهادي او تعزیري مسایلو کې قانون دی او په شکلي برخه کې هم تر ډېره له قانون څخه ګټه اخیستل کېږي او دې ډول قوانینو ته مشروعیت اساسي قانون ورکوي، نو که اساسي قانون نه وي، نور قوانین هم مشروعیت نه لري او کله چې نور قضایي قوانین مشروعیت ونه لري، نو د قضاء نظام به ګډوډ، خپلسرۍ او فساد به په کې روان وي ځکه هر قاضي به د خپلې خوښې مطابق پرېکړې کوي او کوم حقوقي چوکاټ به نه مراعاتوي. له دې کبله د قضاء نظام له ګډوډۍ ساتلو او هغې ته د مشروعیت ورکولو لپاره اړینه ده چې اساسي قانون رامنځته شي.

## د نوي اساسي قانون د جوړېدو عوامل

هره ټولنه اساسي قانون ته اړتیا لري، خو ځینې مهال اساسي قانون له منځه ځي یا د تعلیق حالت ته غورځېږي او یا اړتیا وي چې پخوانی اساسي قانون له منځه لاړ شي او نوی اساسي قانون رامنځته شي، نو دا چې په کومو حالاتو کې نوي اساسي قانون ته اړتیا پیښېږي دلته پرې بحث کوو:

**۱- د نویو دولتونو رامنځته کېدل:** نوي دولتونه په دوه ډوله ظهور کوي: یا دا چې له استعمار څخه خپلواک شي او د یو خپلواک دولت په حیث رامنځته شي او یا هم یو دولت په څو برخو تجزیه شي او د هغې له بطن څخه یو نوی دولت ظهور وکړي، چې په دې دواړو حالاتو کې لومړنی او مهم کار چې دولتونه یې په پیل کې کوي هغه د اساسي قانون رامنځته کېدل دي، ځکه اساسي قانون د دولت لپاره د سیاسي نظام بنه ټاکي، د قواوو واکونه یې مشخصوي، او د مشر د ټاکلو طرزالعمل ورښایي. له دې کبله نوی دولت له هر څه وړاندې د نظام د تعین او بنسټونو د مشخصولو لپاره اساسي قانون جوړوي، چې دا سند یې د خپلواکۍ سند هم ګڼل کېږي، لکه څرنګه چې د امریکا متحده ایالاتو له بریتانیا څخه په ۱۷۷۶ میلادي کال، یوګوسلاویا او چکوسلواکیا له لومړۍ نړیوالې جګړې (۱۹۱۴ــ ۱۹۱۸م) څخه وروسته، همدارنګه هند او پاکستان د ازادۍ له اخیستلو وروسته د اساسي قوانینو جوړول یې ښې نمونې دي[۷]، چې دې ټولو نویو هېوادونو مخکې د نظام

له چلونې څخه د نظام د مشروعیت لپاره حقوقي چوکاټ رامنځته کړ او دا حقوقي چوکاټ پرته له اساسي قانون څخه ناشونی دی.

**۲- د نویو حکومتونو رامنځته کېدل:** بل بحث چې نوي اساسي قانون جوړېدو ته لار پرانېزي هغه د نویو حکومتونو منځته راتګ دی. ځینې وخت نوي حکومتونه د پخوانیو حکومتونو پر پالیسو او هغو قواعدو چې په اساسي قانون کې یې ځای پر ځای کړي وي راضي نه وي، نو له همدې امله نوی اساسي قانون له نویو قواعدو سره تنظیموي، خو دا عمل مطلق نه دی، یعنې کېدلای شي چې یو نوی حکومت د پخواني حکومت اساسي قانون هم تعقیب کړي. که پر اوسني وضعیت بحث وکړو، نو ویلای شو چې که اسلامي امارت د تېر جمهوري نظام له سیاسي بڼې او حکومتي چوکاټ سره مخالف وي، نو دا یوه عادي پروسه ده کولای شي چې نوی اساسي قانون رامنځته کړي او د خپلې خوښې حکومتي سیستم او د سیاسي نظام بڼه پکې ځای پرځای کړي؛ خو د نظام د نوعیت او بنسټ په برخه کې ابهام او سردرګمي بیا د دغه نظام مراندې لړزوي.

**۳- له وخت او شرایطو سره عدم تطابق:** دا هم د یوه نوي اساسي قانون د رامنځته کېدو لامل دی. ډېر کله داسې پېښېږي چې مقنن ته راتلونکي حالت د وړاندوینې وړ نه وي، نو په داسې حالاتو کې که شرایط داسې رامنځته شي چې په اړه یې په اساسي قانون کې احکام موجود نه وي، نو په داسې حالت کې هم نوی اساسي قانون له تعدیلاتو سره رامنځته کېدلای شي او همدا لامل دی چې معمولا پخواني اساسي قوانین هم تغییرېږي او تعدیلېږي.

## پایله

هر هېواد له استثنا پرته اساسي قانون ته اړتیا لري او دا اوسمهال یو منل شوی حقیقت دی، چې له اساسي قانون پرته ټولنې او نظامونه له ګډوډیو او بالاخره له نسکورېدو سره مخ کېږي. د اساسي قانون د نشتون په صورت کې نظامونه خپل ملي او نړیوال مشروعیت له لاسه ورکوي او د حکومتولۍ ټولې چارې د قانونمندۍ پر ځای د شخصي سلیقو قرباني کېږي.

افغانستان چې له تېر کال راهیسې تر ډېره د قانون له خلاء سره مخ دی، دغه وضعیت په مستقیم او غیرمستقیم ډول هېواد له ګڼو ستونزو او ننګونو سره مخ کړی دی. له یوې خوا د نظام د راتلونکي برخلیک او نوعیت په اړه بشپړ ابهام حاکم دی او له بلې خوا د نړیوالې ټولنې د غړو له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی چې یو لامل یې همدا د قانونمندۍ نشتوالی او د هېواد د نظام د ډول نامشخصوالی دی.

د اساسي قانون د بېلابېلو اړتیاوو بحث دا جوتوي چې تر دې زیات د اساسي قانون په خلاء کې د نظام چارې مختلې وړل به ورځ تر بلې ستونزې او ننګونې زیاتې کړي. له دې کبله اوس برداشت

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دا دی چې اسلامي امارت د اوسني نظام د مراندو ټینګولو لپاره د یوې منل شوې ملي پروسې له لارې پر اسلامي ارزښتونو ولاړ اساسي قانون د تسوید او تدوین لپاره اقدام وکړي.

## وړاندیزونه:

۱- د اساسي قانون جدي اړتیا ته په کتلو پکار ده چې سرپرست حکومت د اساسي قانون د جوړېدو یا د پخواني اساسي قانون د تعدیل لپاره د تسوید کمېسیون جوړ او دا قضیه د یوه عاجل ملي لومړیتوب په توګه په پام کې ونیسي.

۲- دا چې اوسمهال ځینې داسې افکار هم شته دي چې افغانستان اساسي قانون ته اړتیا نه لري او د نظام چارې د اسلامي ارزښتونو له مخې مخته وړل کېږي، د دې ښکارندویي کوي چې د حکومت د رهبرۍ په کچه په دې تړاو جدي بحثونه وشي او د اساسي قانون مخالفینو ته قناعت ورکړل شي؛ ځکه ټولنه پرته له اساسي قانون پرېښودل نورو ګډوډیو ته لار پرانیزي او دا به د اوسني نظام لپاره خورا ننګونکې پایلې ولري.

۳- اوسمهال د قانون تشه موجوده ده او هر څه د فرمانونو او حتی د سلیقې له مخې مخته وړل کېږي. دا چې زموږ ټولنه هم د هرې بلې ټولنې په څېر اساسي قانون ته اړتیا لري، له دې کبله پکار ده چې د نوي اساسي قانون تر جوړېدو پورې عجالتا یو پخوانی اساسي قانون (د بېلګې په توګه د ۱۳۴۳ کال قانون) په لنډمهالې توګه له ځینو بدلونونو سره نافذ شي.

۴- د نوي اساسي قانون د تسوید او تدوین پروسه داسې طرح شي، چې په پایله کې یې جوړېدونکې وثیقه د اساسي قانون په توګه د ټول ملت لپاره د منلو وړ شي او د دې ترڅنګ چې ملت یې په تدوین کې رول ولري، دا ډاډ هم حاصل شي چې ټول ملي او اسلامي ارزښتونه په سم ډول پکې په پام کې ونیول شي.

**پای**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## مأخذونه:


۱- شیر علي ظریفي، حقوقو مبادي، اصلاح افکار کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال، ص ۵۸

۲- محمد جعفر کوهستانی، عمومي اساسي حقوق، ژباړن: سمیع الله مجاهد، مستقبل خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ لمریز کال، ص ۲۹

اسدالله الفت، قانون پوهنه، مومند خپرندویه ټولنه،۱۳۹۳ لمریز کال، ص ۱۰۰- ۱۱۰

۴- عبدالصبور مبارز، د اساسي قانون تحلیل او شننه، لومړې ټوک، سلام خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹٦، ص ۱۵

۵- ګوهر الرحمن، اسلامي سیاست، ص ۷۴ او ۷۵

٦- نظام الدین عبدالله، مبادي حقوق افغانستان، انتشارات سعید،۱۳۹۲ لمریز کال، صص ۸۷ او ۸۸

۷- عمومي اساسي حقوق، محمد جعفر کوهستانی، مخکینی مأخذ، ص ۳۰.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)


د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بداینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com  info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۸٦۰۰۹٦۹۹